د جرمني ژبې د اسانې زده کړې کتاب له چاپه راووت

داکتر اکرم ملکزی

ich	arbeit + e + te	=	arbeitete	ما کار وکړو
du	atm + e + test	=	atmetest	تا ساه راښکله
es	regn + e + te	=	regnete	باران وورېدوو
wir	zeichn + e + ten	=	zeichneten	مونږ رسم وکړو
ihr	kitt + e + tet	=	kittetet	تاسو سرېښ کړو
sie	weid + e + ten	=	weideten	هغوی وڅرېدل

د جرمني ژبې اسانه زده کړه

له اساتونه تر ادبیاتو پورې

Dr. Akram Malakzay

ich	arbeit + e + te	=	arbeitete	ما کار وکړو
du	atm + e + test	=	atmetest	تا ساه راښکله
es	regn + e + te	=	regnete	باران وورېدو
wir	zeichn + e + ten	=	zeichneten	مونږ رسم وکړو
ihr	kitt + e + tet	=	kittetet	تاسو سرېښ کړو
sie	weid + e + ten	=	weideten	هغوی وځرېدل

Deutsche Sprache leicht gemacht

Lehrbuch der deutschen Grammatik für Afghanen

ډاکټر اکرم ملکزی

وروسته له لس کلو زیار د جرمني ژبې د اسانې زده کړې کتاب له چاپه راووت. د کتاب نوم دی: (د جرمني ژبې اسانه زده کړه، له اساساتو نه تر ادبیاتو پورې). دا کتاب په ډېر ښایسته ډیزاین او په ډېر ښه صحافت په رنګه ډول د ډاکټر اکرم ملکزي له خوا لیکل شوېدی. ډېر مهم ټکي په سور رنګ لیکل شویدي، په سور رنګ د لیکلو ګټه دا ده چې دا مهم ټکي د لوستونکي سترګو ته ځای په ځای وربریښي او دی ورته ډېر ژر متوجه کیږي. د لیکوال په نظر د دې کتاب په مرسته هر افغان کوی شي چې بې له کوم ښوونکي په اسانه ډول جرمني ژبه زده کړي.

د زده کړې اسانتیا په دې کتاب کې په څه کې ده؟

اسانتیا یې په دې کې ده چې لیکوال لومړی د جرمني ګرامر په دوه سوه (200) مخو کې ولیکو او لوستونکو ته یې وړاندې کړو. لوستونکو ورته ځواب ورکړو چې زده کړه ورنه په دومره خلاصه ډول نشي کېدی ځکه چې د جرمني ګرامر ډېر مغلق دی او پوهېدل پرې ډېر ګران دی. لیکوال د ګرامر برخه لږ څه اسانه کړه چې کتاب څلور سوه (400)مخو ته ورسېد. لوستونکو بیا ځواب ورکړو چې اوس هم لا زده کړه ورځخه ستونځمنه ده. لیکوال ګرامر لاپسې اسانه کړو چې کتاب شپږسوه (600) مخو ته ورسېد. د لوستونکو ځواب دا وو چې اوس ګرامر تر ډېره حده اسان شوېدی، خو لږ څه نور اسانولو ته یې اړتیا شته. لیکوال په کتاب کې څه باندې دوه سوه (200) مخه نور ورزیات کړل چې کتاب اته سوه او شل (820) مخو ته ورسېد. د لوستونکو غبرګون دا وو چې اوس نو د جرمني ژبې ګرامر دومره په ساده ژبه تشریح شوېدی چې که څوک په دې اسانه

ژبه نپوهيږي، نو هغوی ته دې خدای جرمني ژبه وروښايي. نو په دې ډول له دې کتاب نه د جرمني ژبې د زده کړې اسانتيا لوستونکو پخپله تصديق کړه.

د دې کتاب او د نورو کتابو توپير په څه کې دی؟

په دې کتاب کې له يو بې ساري نوښت نه کار اخيستل شوېدی او هغه دا دی چې مخکې له دې نه چې د جرمني ګرامر تشريح شي، په ځينو مبحثونو کې د ګرامر د مبحث په پېل کې د پښتو يو مشهور شعر يا يو متل ليکل شوېدی. د شعر يا د متل له لارې ليکوال لومړی د پښتو ګرامر راسپړي او لوستونکو ته د پښتو ګرامر واضح کوي. کله چې لوستونکي د پښتو ګرامر په مطلب ورسېدل، نو بيا په کراره کراره د جرمني ګرامر ته لار لټول کيږي. کله چې د جرمني ګرامر له ډېرو مثالونو سره ښه تشريح شو، نو بيا په لاندې برخه کې يې تمرينونه راځي. د تمرينونو لاندې بيا د تمرينونو ځواب ليکل شوېدی. په دې ډول لوستونکی ځان پخپله کنټرولولی شي چې ګرامر يې ښه زده شوېدی او که نه.

کله چې د يو چا د جرمني ژبې اساسات زده شول، نو بيا له هغې نه وروسته د زده کړې سويه مخ په لوړېدو ځي، چې په پای کې ادبياتو ته مخ اړول کيږي.

د کتاب په پای کې افغانانو ته د جرمني ژبې ستونځې او تېروتنې په يو جدول کې ليکل شوېدي چې ليکوال په جرمني کې د خپل د ژوندانه په اته څولېښت (48) کلونو په خپلو غوږو اورېدلي او پخپلو سترګو يې ليدلي دي. د جدول په کيڼ اړخ کې د جملې صحيح ډول او په ښي اړخ کې تېروتنې ليکل شوېدي.

په دې چې جرمنيان هم پخپله ژبه کې تېروتنې کوي، نو د افغانانو له تېروتنو نه وروسته د جرمنيانو تېروتنې هم په يو جدول کې ليکل شويدي. د جدول لاندې بيا ليکل شويدي چې د جرمنيانو تېروتنې له کومه ځايه منشا اخلي او صحيح ډول يې څه شان دی.

که چېرته يو څوك دا کتاب قدم په قدم تر پايه پورې ولولي او تمرينونه يې تر پايه پورې په صحيح ډول حل کړي، نو د ده د جرمني ژبې سويه به له عادي جرمنيانو له سويې نه ډېره لوړه وي.

د دې کتاب خپروندی په جرمني کې د جرمني ژبې ټولنه ده چې نوم يې دی.

(Verein Deutsche Sprache)

د دې کتاب د کره کتنې لپاره د دې ټولنې له خوا د جرمني او پښتو ژبپوهان ګمارل شوي وو. له کره کتنې نه وروسته بيا دا کتاب يو ژبني علمي مطبعې ته ورسپارل شو چې مطبعې د ژبې، د ډېزاين او صحافت کره کتنه وکړه. د مطبعې له کره کتنې نه وروسته بيا کتاب د چاپ لپاره چاپخانې ته وروليږل شو. په دې چې د کتاب چاپ په جرمني کې

شوېدی، نو د کتاب نرخ څلور اویا یورو (€ 74,00) دی. دا د کتاب تش د چاپ نرخ دی چې له دې نه نه د جرمني ژبې ټولنې او نه لیکوال ته کومه ګټه رسیږي. د ګټې نه اخیستل د دې لپاره دی دواړو اړخو (د جرمني ژبې ټولنې او لیکوال) د دې لپاره وکړو، چې دواړه اړخه د پیسو ګټلو پسي نه ګرځي، بلکې د خپلو ژبو لپاره خدمت کوي.

کتاب له دې ځایه په مستقیم ډول لاس ته راوړل کېدی شي:

IFB-Verlag
Schulze-Delitzsch-Straße 40
33100 Paderborn
Telefon: 05251 310602
E-Mail: info@ifb-verlag.de
ISBN: ISBN 978-3-949233-03-6
www.vds-ev.de/ifb-verlag

دا سې هم کېدی شي چې په ټولې اروپا کې د کتاب علاقمندان یو د کتاب پلورونکي ځای ته د کتاب نوم او (ISBN 978-3-949233-03-6) شمېره ورکړي، نو په یوه اونۍ کې ورته کتاب رسېدی شي. بل معلومات به دا وي: په دې چې د کتاب نرخ ډېر لوړ دی، نو علاقمندان کوی شي چې د یو دولتي یا د پوهنتون کتابتون (Staatsbibliothek, Universitätsbibliothek) له لارې په وړیا ډول دا کتاب راوغواړي او د مطالعې لپاره یې یو څو موده یې له ځانه سره وساتي.

په نظر کې نیول شوېدي چې دا کتاب به د دې کال تر پایه پورې په افغانستان کې چاپ شي چې بیه به یې ډېره ارزانه وي.

اوس به د کتاب ځیني مبحثونه د بېلګې په توګه وګورو:

د جرمني تورو ليکل:

جرمني توري په دې ډول ليکل کيږي چي لومړی څلور کرښي راښکل کيږي چي ورنه درې پټی جوړيږي. په دې پټيو کي هر توری ځان له ځای لري. لومړی به دا پټی وګورو:

1. Feld	لومړی پټی
2. Feld	دوهمه پټی
3. Feld	دريمه پټی



په جرمني کي واړه ماشومان په دې درې پټو کي لومړی به کور رسموي، په لومړي پټي کي د کور بام، په دوهم پټي کي د کور مينځنی برخه او په دريم پټي کي د کور تاکاو رسميږي چي په يوه زينه باندې سری ورته ښکته کيږي.

د چاپي ليکدود غټ توري دومره غټ ليکل کيږي چي لومړی او دوهمه پټی يا د کور په منځنی برخه او بام پرې ډکيږي، په لاندې ډول

1. Druckschrift, Großbuchstaben: چاپي ستر توري

ABCDEFGHIJKLMNOP

QRSTUVWXYZ ß ÄÖÜ

2. Druckschrift, Kleinbuchstaben: چاپي واړه توري

a b c d e f g h i j k l m n o

p q r s t u v w x y z ß ä ö ü

2. Schreibschrift قلمي لیکدود



څنګه چې پورته لیدل کیږي، قلمي غټ توري زیاتره په لومړي او دوهم پټي یا د کور په منځنۍ برخه او په بام کې لیکل کیږي، غیر له (G, J, Y) نه چې درېواړو پټو یا د کور په ټولو برخو کې لیکل



واړه قلمي توري زیاتره په دوهم پټي یا د کور په مینځنۍ برخه کې لیکل کیږي، غیر له څینو تورو نه چې هغه دا دي: (b, d, h, k, l, t) . دا توري په لومړي او دوهم پټي یا د کور په مینځنۍ برخه او د کور په بام کې لیکل کیږي.

کیږي.



دوه واړه قلمي توري شته چې په درېواړو پټو یا د کور په درېواړو برخو کې لیکل کیږي، هغه دا دي: (f + ß)



کله چې قلمي لیکدود لیکل کیږي، هغه په دې ډول کیږي چې د لومړي توري وروستۍ برخه د دوهم توري د لومړۍ برخې سره نښلول کیږي، په دې ډول:



دا توري (g, j, p, q, y) په دوهم او دریم پټي یا د کور په مینځنۍ برخه او د کور په تاکاو کې لیکل کیږي.

Die Aussprache   د جرمني ژبې د تورو تلفظ

A	معادل دی د پښتو له (الف) سره لکه انګور، انځور، او (ه) سره چې د لغت په پای کې راشي، لکه پوزه، سترګه . مثال: (Affe) یعني بیزو (تلفظ: اه فې)، (Apfel) یعني منه (تلفظ: اپ فېل)
Ä	معادل دی د پښتو له (ی) سره، لکه سړی ، زمری. مثال : (Ähre) یعني وږی، لکه غنمو وږی (تلفظ : ای غې)، (Dämon) یعني دېو یا دېپ (تلفظ : دی مون)
Äu	د (اوی) په توګه لوستل کیږي. لکه: (Läuse) یعني سپږې (تلفظ: لوی زې)، (Mäuse) یعني موږکان (تلفظ: موی زې)، (Bäume) یعني ونې (تلفظ : بوی مې)
B	دا توری د پښتو او عربي له (ب) سره معادل دی، لکه (Baum) یعني ونه (تلفظ : به وم)
C	دا توری په جرمني ژبه کې پخپله هېڅ شان غږ نلري. په ځینو له انګلیسي نه اخیستل شوو لغاتو کې د (K) په ډول لوستل کیږي. مثال: (Creme) یعني کریم (تلفظ: کغې مې). دا توري د پښتو د (ښ) ، (خ) ، (ك) (ش) او هم (چ) په ډول لوستل کیږي. **① د پښتو د (ښ) په ډول** هغه (ښ) چې په پکتیا، غزني او په لغمان کې تلفظیږي او نه د کندهار او نه د کنړ، ننګرهار او یا د پېښور په ډول. یعني دا توري نه د (خ) په شان او نه د (ش) په شان تلفظیږي، بلکې د (خ) او د (ش) تر مینځ ، لکه: پښه، ښه، ښایست، ښکلا او داسې نور. جرمني مثال:

Ch	(ich) یعني زه (تلفظ : ایش)، (nicht) یعني بې نه (تلفظ : نیښت) **② د (خ) په ډول** که چېرته له (Ch) نه مخکې (A, O, U) راشي نو بیا (CH) د (خ) په ډول لوستل کیږي، مثال: (Bach) یعني وله (تلفظ : به خ)، (Buch) یعني کتاب (تلفظ : بوخ)، (Koch) یعني آشپز (تلفظ : کوخ)، (Tuch) یعني دستمال (تلفظ : توخ) . **③ د (ك) په ډول** که چېرته (Ch) د یوناني لغاتو په سر کې راشي نو د (K) په ډول لوستل کیږي. مثال : (Christentum) یعني عیسوي مذهب (تلفظ : کغیس تېن توم)، (Charakter) یعني کرکټر (تلفظ : که غه ك ته)، (Chamäleon) یعني کربوړی (تلفظ : که مې لي ون) **④ د (ش) په ډول** که چېرته (Ch) د فرانسوي لغاتو په سر کې راشي نو د (ش) په ډول لوستل کیږي، مثال: (Charme) یعني جذابیت، ښکلا (تلفظ : شه غ م)، (Chauffeur) یعني دریور یا موټروان (تلفظ : شو فې یه). (Chance) یعني چانس (تلفظ: شانس). **⑤ د (چ) په ډول** که چېرته (Ch) د انګلیسي لغاتو په سر کې وي، نو د (چ) په ډول لوستل کیږي. مثال : (Chat) یعني په کمپیوټر کې له چا سره د معلوماتو لیږ رالیږد (تلفظ: چېټ). (Check) یعني کنټرول (تلفظ: چېك)
-ch-	دا توري د (خ) او د (ك) په ډول لوستل کیږي. **① د (ك) په توګه** کله چې د یو لغت په مینځ کې له (-ch-) نه وروسته (s) راشي نو په دې وخت کې (ch) د (k) په ډول لوستل کیږي. مثال: (sechs) یعني شپږ (تلفظ : زېکس)، (Achse) یعني محور (تلفظ : اك سې) (Achselhöhle) یعني تخرګی (تلفظ : اکسېل هوېلې)، (Buchs) یعني پیرختونی چې یو شان ونه ده (تلفظ: بوکس)، (wachsen) یعني وده کول (تلفظ : وکسېن)، (Dachs) یعني تورلمی یا ګورګبن چې یو ځاروی دی (تلفظ : ده کس). **② د (خ) په ډول** که چېرته له (Ch) نه وروسته (sp) او یا (st) راشي، نو دلته بیا (Ch) د (خ) په تلفظ لوستل کیږي. مثال: (Bachstelze) یعني دبڅې چې یوه مرغۍ ده (تلفظ: به خ شتېل څې). (Schachspiel) یعني د سطرنج لوبه (تلفظ: شه خ شپیل).
ck	معادل دي له (KK) سره. مثال: (Zucker) یعني بوره یا شکره (تلفظ: څوکه) دا توري هېڅکله د لغت په سر کې نه راځي. تل د لغت په مینځ او یا په پای کې راځي.
D	: دن کې). ځېنې پښتانه دا توری د پښتو د (ډ) په شان لولي چې دا بالکل غلط دی. د (ډ) توری په جرمني ژبه کې هېڅ نشته
-dt	کله چې دا توري د لغت په پای کې راشي، نو بیا (d) ورسره نه لوستل کیږي او تش (t) یې لوستل کیږي، یعني د (ت) په ډول. مثال: (Stadt) یعني ښار (تلفظ: شته ت) ، (Abgesandter) یعني استازی (تلفظ: اب ګې زن ته)

E	معادل دی د پښتو له (ي) سره لکه شيدي، مستي،، شړومبي، وريجي، اوربشي . مثال: (Esel) يعني خر (تلفظ : اي زېل)، (Ente) يعني ايلی (تلفظ : اېن تې)
Ei	معادل دی د پښتو له (ی) سره لکه څوکی، هګی، وری، نجلی. مثال: (Ei) يعني هګی (تلفظ: ای)، (Eid) يعني قسم يا لوړه (تلفظ: ای د) ، (Eile) يعني بيړه (تلفظ: ای لي)
Eu	د (اوی) په ډول لوستل کيږي، لکه : (neu) يعني نوی (تلفظ: نو - ی)، (Eule) يعني بوم (تلفظ : اوی لي)، (Teufel) يعني شيطان (تلفظ : توی فېل)
F	معادل دی د پښتو له (ف) سره، لکه (Fuß) يعني پښه (تلفظ : فوس)
G	معادل دی د پښتو له (ګ) سره، لکه (gut) يعني ښه (تلفظ : ګوت)، (Gast) يعني مېلمه (تلفظ: ګه ست)، (Gaul) يعني ټټو يا يابو (تلفظ : ګه ول)
H	د پښتو له (ه، هه) سره معادل دی، لکه هر ، هېر. مثال: (Hund) يعني سپی (تلفظ: هوند). خو په ځينو حالاتو کي د (h) غږ نه لوستل کيږي. هغه حالات دا دي: ① که له (h) نه مخکي يعني کيڼ اړخ ته يې (A, Ä, E, I, O, Ö, U, Ü) او ښي اړخ ته يې يو بې غږه توری راشي نو په دې وخت کي (h) نه لوستل کيږي او په ځای يې د لومړنيو تورو يعني د کيڼ اړخ د تورو غږ اوږديږي، لکه (Hahn) يعني چرګ (تلفظ : هان)، (Zahl) يعني عدد (تلفظ : څال)، (Zahn) يعني غاښ (تلفظ: څان) ② که له (h) کيڼ اړخ ته پورتني توري او ښي اړخ ته يې هېڅ توری رانشي، نو بيا هم د (h) غږ نه لوستل کيږي، مثال: (Schuh) يعني بوټ (تلفظ : شو)، (Kuh) يعني غوا (تلفظ : کو)، (nah) يعني نږدې (تلفظ: نا) . په دې چي (h) بېخيله نه لوستل کيږي او هغه توری چي ورنه مخکي راغلی، د هغه غږ اوږدوي، نو له دې امله ورته (Dehnungs- H) ويل کيږي. يعني غږ غځوونکی يا غږ اوږدوونکی (H)
I	د پښتو له (ي) سره معادل دی، لکه سړي، زمري، وحشي، ګټي. مثال: (Ingwer) يعني سونډ (تلفظ: اينګ وه)، (Igel) يعني شيشکی (تلفظ: اي ګېل)
-ie	په اوږد ډول د (I) يعني (اي) په تلفظ لوستل کيږي. مثال: (viel) يعني ډېر (تلفظ: فيل) (n<u>ie</u>) يعني هېڅکله نه (تلفظ : ني)، (Knie) يعني ځنګون (تلفظ: کني) . دا توري هېڅکله د لغت په سر کي نه راځي، تل د لغت په مينځ او يا په پای کي راځي
-ig	که چېرته د يو لغت په پای کي راشي نو د (ښ) په ډول لوستل کيږي. مثال: (Honig) يعني ګبين يا شات (تلفظ: هونيښ)، (billig) يعني ارزان (تلفظ: بي ليښ) يادونه : که چېرته د لغت په پای کي (-ieg) راشي نو بيا د (g) د (ګ) په ډول لوستل کيږي. مثال: (Sieg) يعني بری (تلفظ: زيګ) ، (Krieg) يعني جګړه (تلفظ: کغيګ)
J	د پښتو له (ي، ی) سره معادل دی، لکه (ja) يعني هو (تلفظ : يا) ، (Jacke) يعني کرتی (تلفظ : يه کي) ، (Jagd) يعني ښکار (تلفظ : ياګد) ، (Jahr) يعني کال (تلفظ. يا)
K	معادل دی د پښتو له (ك) سره، لکه (Kind)) يعني ماشوم (تلفظ: کيند)، (Koch) يعني اشپز (تلفظ: کوخ)، (Kuchen) يعني کېك (تلفظ: کوخېن)

L	معادل دی د پښتو له (ل) سره، لکه (Liebe) یعني مینه (تلفظ : لي بې)، (Luft) یعني هوا (تلفظ: لوفت)، (Lust) یعني شوق (تلفظ: لوست)، (Lied) یعني سندره (تلفظ: لید)
M	معادل دی د پښتو له (م) سره، لکه (Maus) یعني موږك (تلفظ : مه وس)، (Mispel) یعني لوکاټ (تلفظ : میس پېل)، (Mensch) یعني انسان (تلفظ: مېن ش)
N	معادل دی د پښتو له (ن) سره، لکه (Nase) یعني پوزه (تلفظ : نازي)، (Nuss) یعني غوز یا چارمغز (تلفظ: نوس)، (Niere) یعني پښتورگی یا بډوډی (تلفظ: نې غې).
O	دا توری د پښتو له (او) او د (و) په ډول لوستل کیږي. ① د (او) په ډول: کله چې (o) د لغت په سر کې راشي، نو په (او) لوستل کیږي، لکه (Ofen) یعني بخاری (تلفظ : او فېن). (oben) یعني پورته (تلفظ: اوبېن) ، (Obst) یعني مېوه (تلفظ: اوبست) ② د (و) په ډول: کله چې (o) د لغت په منځ او په پای کې راشي، نو د (و) په توګه لوستل کیږي، لکه (Boden) یعني مځکه (تلفظ : بو دې ن)، (Kino) یعني سینما (تلفظ: کې نو)

2 اضافي حالت، د خاوند توب حالت der Genitiv

دا هغه حالت دی چې د يو چا او يا د يو شي خاوند څرګندوي. (Genitiv) دا ښايي چې د يو شي خاوند څوك دی، يو شی د چا دی. په دي حالت کې سری دا پوښتنه کوي چې:

wessen	د چا

مثال:

Frage پوښتنه	Antwort ځواب
Wessen Apfel hast du gegessen? تا د چا مڼه وخوړله؟	Ich habe den Apfel meines Bruders gegessen. ما د خپل ورور مڼه وخوړله

دلته ښکاره کیږي چې د دي مڼي خاوند زما ورور دی. یا په بل عبارت زما ورور د خاوندتوب یا د (Genitiv) په حالت کې دی. د (Genitiv) نښه په پښتو کې د نارینه، ښځې او د ماشوم لپاره په یو شان ده چې هغه (د ...) ده. په جرمني ژبه کې د (Genitiv) نښه د نارینه لپاره (des) ، د ښځې لپاره (der) او د ماشوم او یا د مخنث لپاره هم لکه د نارینه په شان (des) ده. د نارینه او د مخنث نومونو په پای کې (-s) او یا (-es) ورزیاتیږي، یعني له (Mann) نه (Mannes) او له (Kind) نه (Kindes) جوړیږي. دا مطلب به یو ځل بیا په لاندیني جدول کې وګورو: نور تشریحات یې په نورو پاڼو کې لیدی شو.

Deklination mit dem bestimmten Artikel, Singular

Geschlecht جنسيت	bestimmter Artikel, Singular جنسيت ښودونکی	Genitiv des bestimmten Artikels	Genitiv des Nomens
Maskulinum نارينه	der	des	Mannes د سړي
Femininum ښځينه	die	der	Frau د ښځې
Neutrum مخنث	das	des	Kindes د ماشوم

Beispielsätze:

Das ist der Kopf des Mannes.	دا د سړي سر دی
Das ist das Buch der Frau.	دا د ښځې کتاب دی
Das ist die Hand des Kindes.	دا د ماشوم لاس دی

Deklination mit dem bestimmten Artikel, Plural

Geschlecht جنسيت	bestimmter Artikel, Singular جنسيت ښودونکی	Genitiv des bestimmten Artikels, Plural	Nominativ des Nomens, Plural
Maskulinum نارينه	der	der	Männer د سړو
Femininum ښځينه	die	der	Frauen د ښځو
Neutrum مخنث	das	der	Kinder د ماشومانو

څنګه چې پورته ليدل کيږي، د (Genitiv) حالت په جمع کې د دري واړو جنسيتو لپاره (der) کارول کيږي.

Beispielsätze:

Das sind die Köpfe der Männer.	دا د سړو سرونه دي
Das sind die Bücher der Frauen.	دا د ښځو کتابونه دي
Das sind die Hände der Kinder.	دا د ماشومانو لاسونه دي

کومه پوښتنه چې په دې وخت کې کيږي، هغه دا ده wessen يعني د چا .

Frage (wessen)	Antwort (Genitiv)
Wessen Haare sind schwarz? د چا ويښته تور دي؟	Die Haare der Frau sind schwarz. د ښځې ويښته تور دي
Wessen Schuhe sind das? دا بوټان د چا دي؟	Das sind die Schuhe des Kindes. دا د ماشوم بوټان دي

Deklination des bestimmten Artikels aller Fälle (Zusammenfassung)
ټولو حالاتو د څرګندو نومونو ګردان (د تکرار لپاره خلاصه)

Singularمفرد

Kasus حالت	Maskulinum نارینه	Femininum ښځینه	Neutrum مخنث
Nominativ فاعل حالت (1. Fall) لومړنی حالت	der Mann سړی	die Frau ښځه	das Kind ماشوم
Genitiv اضافي حالت (2.Fall) دوهم حالت	des Mannes د سړي	der Frau د ښځې	des Kindes د ماشوم
Dativ مفعولي حالت (3. Fall) دریم حالت	dem Mann (e) سړي ته	der Frau ښځې ته	dem Kind (e) ماشوم ته
Akkusativ مفعولي حالت (4. Fall) څلورم حالت	den Mann سړی	die Frau ښځه	das Kind ماشوم

Plural جمع

Kasus حالت	Maskulinum نارینه	Femininum ښځینه	Neutrum مخنث
Nominativ (1. Fall) لومړی حالت	die Männer سړي	die Frauen ښځې	die Kinder ماشومان
Genitiv (2. Fall) دوهم حالت	der Männer د سړو	der Frauen د ښځو	der Kinder د ماشومانو
Dativ (3. Fall) دریم حالت	den Männern سړو ته	den Frauen ښځو ته	den Kindern ماشومانو ته
Akkusativ (4. Fall) څلورم حالت	die Männer سړي	die Frauen ښځې	die Kinder ماشومان

Partizip I und Partizip II

له (Partizip) نه په ورځینۍ ژوند کې کار نه اخیستل کیږي. په عادي خبرو کې هېڅ څوك (Partizip) نه استعمالوي. له (Partizip) جملو نه په ادبي ژبه کې، په پوهنیزو او حقوقي مبحثونو کې او په دفتري لیکونو کې کار اخیستل کیږي. (Partizip I) د پښتو په ادبیاتو کې هم کارول کیږي، لکه د خوشحال خان خټك د زوی، عبدالقادر خان خټك په دې پښتو شعر کې:

چې یې تللم په خندا خندا دیدار ته	اوس یې درومم په ژړا ژړا مزار ته

په پورتنی پښتو شعر کې لیکل شوي چې (په خندا خندا) او (په ژړا ژړا). دا په دې مانا چې یو څوك د (خندلو) او د (ژړلو) په حالت کې دی. د جرمني په ګرامر کې دې حالت ته (Partizip I) وایي. (Partizip) له یو فعل نه جوړیږي او په دوه ډولو دی: (Partizip I + Partizip II) . د دې دواړو حالاتو نه د صفت په توګه کار اخیستل کیږي.

Partizip I = Partizip Präsens

(Partizip I) په دې ډول جوړیږي چې د یو مصدر په پای کې (d) لیکل کیږي :

lachen خندل	+	d	=	lachend	په خندا ، د خندا په حالت کې، له خندا نه ډک

نور مثالونه :

weinen + d = weinend په ژړا، د ژړا په حالت کې	laufen + d = laufend په منډه، د منډې په حالت کې	schlafen + d = schlafend د خوب په حالت کې
singen + d = singend سندره په خوله، په سندرو	kommen + d = kommend د راتلو په حالت کې	schreien + d = schreiend په چیغه، د چیغې په حالت کې

مثالونه په جملو کې:

Mein Bruder ging aus dem Zimmer und lachte. زما ورور له کوټې نه ووت او و یې خندل
Mein Bruder ging lachend aus dem Zimmer. زما ورور په خندا له کوټې نه ووت
Meine Mutter kocht Suppe und telefoniert dabei. زما مور شوروا پخوي او په دې وخت کې په ټیلفون کې خبرې کوي
Meine telefonierende Mutter kocht Suppe. زما ټیلفون کې خبرې کوونکې مور شوروا پخوي
Der Vogel saß auf einem Ast. Dabei zwitscherte er. مرغه په یو ښاخ ناست و. په دې وخت کې چونیده
Der zwitschernde Vogel saß auf einem Ast. چونېدونکی مرغه په ښاخ ناست و

(Partizip I) د یو کس دوه کاره ښایي چې په عین وخت کې کیږي، یعنې دا چې په عین وخت کې چې یو کس یو څه کوي، بل کار هم کوي. خو دا کار لا پای ته ندی رسیدلی او جریان لري. کله چې یو (Partizip I) جوړ شو، نو هغه د صفت حیثیت لري او د صفت په شان ګردانیږي. نو په دې ډول د (Partizip I) (Artikel) او د اسم تر مینځ لیکل کیږي. مثال: (der schlafende Mann)، یعنې (په خوب ویده سړی). کله کله بیا دا (Partizip I) له یو بل صفت او یا قید سره یوځای کیږي، په دې وخت کې نو بیا صفت او یا قید له (Partizip I) نه مخکې راځي.	توضیحات

مثال:

Der Mann ging aus dem Zimmer. Dabei lachte er laut. سړی له کوټې نه ووت او له کوټې نه د وتلو په وخت يې په زوره وخندل	
Der laut lachende Mann ging aus dem Zimmer. لوړه خنداکوونکی سړی له کوټې نه ووت	
Das Kind fürchtet sich stets im Dunkeln. Es geht nachts immer ins Elternbett. ماشوم په تياره کې تل داريږي. هغه په تياره کې د مور او پلار کټ ته ځي	
Das sich stets im Dunkeln fürchtende Kind geht nachts immer ins Elternbett. په تياره کې تل داريدونکی ماشوم د شپې له مخې د مور او پلار کټ ته ځي	
Die Vögel, die fröhlich vor sich hinzwitschern, sitzen auf den Bäumen. هغه مرغۍ چې په خوشحالۍ چونيږي، په ونو کې ناستې دي.	
Die fröhlich vor sich hinzwitschernden Vögel sitzen auf den Bäumen. په خوشحالۍ چونيدونکي مرغۍ په ونو کې ناستې دي.	

Übungen:

1. Sie sucht eine (passen) ………… Hose zu ihrer neuen Jacke.
هغه د خپلې نوې کرتۍ لپاره جوخت پطلون لټوي
2. Der Stoff hat (leuchten) ………… Farben. دا ټوټه پرکېدونکي رنګونه لري
3. (schlafen) ………… Hunde soll man nicht wecken. ويده سپي بايد سړی ويښ نکړي
4. Der aus USA (kommen)………… Student spricht gut Deutsch.
هغه له امريکې نه راغلی محصل په جرمني ژبه ښه غږيږي
5. Er hat die Prüfung bestanden. Er steigt (strahlen) ……… aus dem Auto aus.
هغه په ازموينه کې بريالی شو. له موټر نه چې هغه ښکته کيږي، له مخ نه يې نور راځي
6. Das ist eine (anstecken) ………… Krankheit. دا يوه تېرېدونکې ناروغي ده
7. Kinder lernen oft (spielen) ………… ماشومان ډېر څه په لوبو لوبو کې زده کوي
8. Das Zimmer hat kein (fliesen) ………… Wasser. دا کوټه رواني اوبه نلري
9. Die nicht sehr gut (sehen) ………… Patientin benötigt eine Brille.
هغه رنځوره چې ښه نشي ليدلی، هغې ته عينکې پکار دي
10. Der sieben Jahre lang (währen) ………… Krieg forderte viele Opfer.
هغه جګړه چې اوه کاله يې دوام وکړو، ډېر کسان پکې قرباني شول
11. Der Hund liegt vor seiner Hundehütte und knurrt. Der ………… Hund liegt vor seiner Hundehütte. سپی د سپو د کوټنۍ په مخکې پروت دی او خريږي. سپی په خرېدو د
خپلې کوټنۍ په مخکې پروت دی
12. Der Chef ging aus dem Zimmer und lachte. Der Chef ging ………… aus dem Zimmer. آمر له کوټې نه ووت او ويې خندل. آمر په خندا له کوټې نه ووت

Lösungen:

1. passend 2. leuchtend 3. schlafend 4. kommend 5. strahlend 6. ansteckende 7. spielend 8. fließendes 9. aussehende 10. währende 11. knurrend 12. lachend 13. zwitschernde 14. trpfendes 15. fließend

Der Konjunktiv

(Konjunktiv) د ګرامر هغه برخه ده چې که څوك پرې ښه وپوهيږي نو د ګرامر له دې برخې نه به ډېر خوند واخلي. دا ځکه چې په (Konjunktiv) باندې هغه شان خبرې کېدی شي چې د سړي طبيعت پرې تازه کيږي. څه چې په واقعيت کې کېدونکې ندي، هغه کله په خوب او خيال کې ليدل کيږي، نو د خوب، خيال او تصور خبرې بيا په (Konjunktiv) کيږي. څنګه چې رحمان بابا ويلي دي:

کاشکې زه خاورې ايرې دا ستا د در وای	چې قدم دې همېشه زما په سر وای

نو څنګه چې رحمان بابا خپل ارمان ښودلی دی چې (کاشکې زه خاورې ايرې ستا د در وای)، نو دا شان د زړه ارمانونه هم په (Konjunktiv) بيانيږي. له بلې خوا ارمانی هيلې او ارماني امېدونه د سبا او د راتلونکي لپاره هم په (Konjunktiv) ويل کيږي. نو څنګه چې ښکاري د (Konjunktiv) مبحث ډېر په زړه پورې دی چې په لاندې برخه کې به په کراره کراره يوه يوه برخه يې زده کړو. د (Konjunktiv) لغت د لاتيني *(coniungere)* نه اخيستل شوېدی چې يو بل سره نښلولو يا وصلولو ته وايي. په انګليسي کې ورته (subjunctive) وايي. په ځينو پښتو منابعو کې ورته (ارماني صيغه) او يا (ارماني جملې) ويل شويدي.
اوس به لږ څه وچ ګرامر زده کړو او بيا به ښايسته (Konjunktiv) ته بېرته راوګرځو او ښکلې ښکلې جملې، د خوبونو او خيالونو او د تصور او د ارمانونو جملې ولولو.

د يو چا خبرې يا مطلب په درې ډولو بيانېدی شي

1		نبغ په نبغه يا کټ مټ د يو چا خپلې خبرې تکرارول چې دې ته (Indikativ) وايي
2		نبغ په نبغه په يو چا امر کول، چې دې ته (Imperativ) وايي
3		په (Konjunktiv) کې خبرې چې هغه په درې ډولو دي
	a	د يو دريمګړي سړي خبرې د هغه په غياب کې د يو بل چا له خولې
	b	د خوبونو، خيالونو او ارمانونو خبرې
	c	د امکاناتو خبرې چې دې ته (Möglichkeitsform) وايي

(Konjunktiv) په دوه ډولو دی.

Konjunktiv II	Konjunktiv I

په (Konjunktiv I) کې د دريمګړي سړي خبرې د هغه په غياب کې کيږي چې دې ته ويل کيږي: (indirekte Rede) ، يعنې غير مستقيمې خبرې. په (Konjunktiv II) کې هغه نورې په زړه پورې خبرې کيږي چې پورتنۍ مقدمه کې يادې شوې.

د (Konjunktiv I) د جوړولو لار

① (Konjunktiv I) په اوسني وخت يا په (Präsens) کې

په اوسني وخت يا په حال کې لومړی له هر فعل نه (-en) هيسته کيږي. څه چې پاتې شول، له هغې سره د (Konjunktiv I) خاص توري يوځای کيږي چې دا خاص توري په لاندېني جدول کې ليکل شويدي:

Konjunktiv I im Präsens

اشخاص	د Konjunktiv خاص توري	له مصدر نه چې -en وویستل شي	د فعل پاتې برخه د Konjunktiv تورو سره	Konjunktiv I
ich	~e	geh	geh + e	gehe
du	~est	geh	geh + est	gehest
er/sie/es	~e	geh	geh + e	gehe
wir	~en	geh	geh + en	gehen
ihr	~et	geh	geh + et	gehet
sie	~en	geh	geh + en	gehen

② د سواليه يا د پوښتني كولو جملي په توګه (Fragesatz) :
سره له دې چې په دې جملو کې فعل د جملې په سر کې راځي او داسې ښکاري چې دا جمله به يوه سواليه جمله وي، خو د جملې پای ته چې وکتل شي، هلته بيا د سوالي (?) په ځای يوه ندائيه (!) ليکل شوي وي. له بلې خوا په داسې جملو کې د (aber, doch, vielleicht) الفاظ هم کارول شوي وي.
مثال:

Ist das schön!	دا څومره ښايسته دی
Ist das aber teuer geworden!	دا خو ډېر قيمته شوی دی
Wie mich das aufregt!	دا ما څومره په قهروي (يعني دا چې زښت ډېر مې په قهروي)
Was dieser arme Mann nicht alles erlebt hat!	په دې بدمرغه سړي باندې څه تېر شوي ندي!

په پښتو کې کله کله د جملې په سر کې د سوالي يو حرف راځي، لکه (څنګه)، خو له (څنګه) نه مطلب کومه پوښتنه نده، بلکې يوه ادعا ده چې مطلب يې (زښت ډېر) دی. د دې مطلب د واضح کولو لپاره به د بېلګې په توګه د موسيقۍ د استاد، محمد دين زاخېل د يو شعر يوه مصرع وګورو:

څنګه مينه زما او ستا وه، څنګه هېر شو له يو بل نه زه خو ګل ستا د پېکي وم څنګه پرېوتم اوربل نه

په پورتنۍ جمله کې (څنګه مينه) د پوښتنې په مانا نه بلکې د (څومره ډېره مينه) په مانا کارول شوېده.

په جرمني ژبه کې هم لکه د پښتو په شان د جملو په سر کې کله کله سواليه الفاظ کارول کېږي، لکه: (was für ein, wie, was) چې په دې وجه لکه د هرې (w) سوالي جملې (w-Frage) په شان فعل د جملې په پای کې راځي. خو دې سره سره دا جملې سواليه جملې نه بلکې ندائيه جملې دي، له يوې خوا ځکه چې په پای کې يې سواليه (?) نښته، بلکې ندائيه (!) ده، او له بلې خوا له اورېدونکي نه ځواب نه غوښتل کېږي. مثال:

Wie mich das aufregt!	دا ما څومره په قهروي (يعني دا چې زښت ډېر مې په قهروي)
Was dieser arme Mann nicht alles erlebt hat!	په دې بدمرغه سړي باندې څه تېر شوي ندي! (يعني په ده باندې ډېرې سختې تېرې شوې دي)

⑥ Auf ein Adjektiv folgendes substantivisch verwendetes Adjektiv

ځينې صفتونه شته چې له هغوی نه کله کله د يو اسم په توګه کار اخيستل کېږي، ځکه چې د پښتو په دې شعر کې ليدل کېدی شي:

د ښکلو یاري مه کړئ خوله کې اور ګرځوي	په خوله به تا سره وي زړه کې نور ګرځوي

د (ښکلی) کلمه اصلاً یو صفت دی چې د یو اسم ښکلا ځرګندوي، خو په پورتني شعر کې ورنه د اسم په توګه کار اخیستل شوی دی، یعني هغه کسان چې ښایسته دي. داسي صفتونه په جرمني ژبه کې هم شته چې د اسم په توګه کارول کیږي، لکه (schön) یعني ښکلی یا ښایسته. مثال: (ein schönes Haus) یعني (یو ښایسته کور). خو له دي صفت نه اسم هم جوړیدی شي، لکه (die Schöne) یعني ښکلي نجلی او یا ښکلا. مثال:

د ښکلو نجونو په ډله کې هغه له ټولو نه ښکلې ده	Sie ist die Schönste der Schönen.

په پورتنی جلمه کې (Schönste + Schönen) اصلاً له (schön) نه اخیستل شوي صفتونه دي چې د اسم په توګه کارول شوي دي.
نو کله چې په دي ډول یو صفت په اسم بدل شي او یو بل صفت ورسره یو ځای شي، نو په دي وخت کې دواړه ګردانیږي ، یعني صفت هم ګردانیږي او په اسم بدل شوی صفت هم . مثال:

Adjektiv	substantivisch verwendetes Adjektiv
verwandt د یو چا سره خپل یا خپلوان	der Verwandte خپل یا د نارینه خپلوانو نه یو تن سړی die Verwandte خپله یا د ښځینه خپلوانو نه یو تن ښځه

مثالونه:

Singular مفرد	Plural جمع
der arme Verwandte بې وزلې خپل	die armen Verwandten بې وزلې خپلوان
ein junger Abgeordneter یو ځوان وکیل	viele junge Abgeordnete ډېر ځوان وکیلان
eine junge Abgeordnete یوه ځوانه وکیله	viele junge Abgeordnete ډېرې ځوانې وکیلانې
viel interessantes Neues ډېر په زړه پورې نوې شیان	Kein Plural
eines armen Kranken د یو بې وزلې ناروغ	vieler armer Kranker د ډېرو ناروغو رنځورانو
einer armen Kranken د یوې بې وزلې رنځورې ښځې	vieler armer Kranker د ډېرو بې وزلو رنځورو ښځو
lieber Studierender! ګرانه محصله	liebe Studierende! ګرانو محصلینو
der junge Studierende ځوان محصل	die jungen Studierenden ځوان محصلین
für den jungen Studierenden د ځوان محصل لپاره	für junge Studierende د ځوانو محصلینو لپاره
für den jungen Studierenden د ځوان محصل لپاره	für die jungen Studierenden د ځوانو محصلینو لپاره
mit einem höheren Beamten له یو جګپوړي مأمور سره	mit höheren Beamten له جګپوړو مأمورینو سره
das Gehalt eines hohen Beamten د یو جګپوړي مامور معاش	die Gehälter höherer Beamter د جګپوړو مامورینو معاش

په جرمني ژبه کې د افغانانو ډېرې ستونځې او تېروتنې

دغه تېر وتني ما ډېر وخت د افغانانو له خولې اوريدلي دي:

fragen	
richtig صحيح	falsch غلط
Ich habe ihn *(= Akkusativ)* gefragt. ما له هغه نه پوښتنه وکړه	Ich habe von ihm gefragt.

vor oder von	
richtig صحيح	falsch غلط
Er hat Angst vor dem Hund. هغه له سپي نه داريږي	Er hat Angst von dem Hund.

Uhrzeitangabe د وخت بيان	
richtig صحيح	falsch غلط
Es ist ein Uhr. يوه بجه ده	Es ist eins Uhr
Er war um ein Uhr da. هغه په يوه بجه حاضر وو	Er war um eins Uhr da.
Ich komme um ein Uhr wieder. زه په يوه بجه بېرته راځم	Ich komme um eins Uhr weider.
Ich komme um eins. زه په يوه بجه راځم	Ich komme um ein.
Es ist viertel nach eins. له يوې نه پنځلس دقيقې تېرې دي	Es ist viertel nach ein.
Wieviel Uhr ist es? څو بجې دي؟	Wieviele Uhr ist es?
Wieviel Uhr ist es? څو بجې دي؟	Wieviel Uhr ist.
Um wieviel Uhr kommst du? ته په څو بجو راځې؟	Wieviel Uhr kommst du?

alle, alles, all	
richtig صحيح	falsch غلط
Ist das alles? هر څه همدا دي؟	Ist das alle?
Ich sehe alles. زه هر څه وينم	Ich sehe alle. زه ټول انسانان وينم
Ich esse alles. زه هرڅه خورم، هغه څه چي دلته دي، زه ټول يې خورم	Ich esse alle. دا په دې مانا چي زه ټول انسانان خورم
Ist alles in Ordnung? هر څه ټيك دي؟	Ist alle in Ordnung?
Nimm alles mit, was du mitnehmen kannst. هغه شيان چي ته له ځانه سره اخيستی شي، وا يې خله	Nimm alle mit, was du mitnehmen kannst. هغه انسانان چي ته له ځانه سره اخيستی شي، وا يې خله

هغه ژبنۍ تېروتنې چې جرمنيان يې پخپله کوي

richtig صحیح	falsch غلط
1. Dieser Ball ist größer als jener. دا توب له هغه بل توپ نه غټ دی	Dieser Ball ist größer wie jener.
Ich bin älter als du. زه له تا نه مشر یم	Ich bin äter wie du
2. die am besten aussehende Frau له ټولو نه ښه ښکاره کېدونکي ښځه	die gut aussehendste Frau
Das ist das meist gelesene Buch. دا له ټولو نه ډېر لوستل شوی کتاب دی	Das ist das meist gelesenste Buch.
der erstgeborene Sohn هغه زوی چي لومړی زېږېدلی دی	der erstgeborenste Sohn
3. die rosa Blume ګلابي رنګه ګل	die rosae Blume
4. Er ist der einzige Mensch, der … هغه یوازینی انسان دی چي ...	Er ist der einzigste Mensch, der …
1. Das sind verschiedene Geschmäcke. دا مختلف ذوقونه دي	Das sind verschiedene Geschämcker.
6. Das habe ich allein gemacht. دا مي په یوازې ځان وکړو	das habe ich alleine gemacht
Sie wohnt allein in dem großen Haus. هغه په دې لوی کور کې یوازې اوسېږي	sie wohnt alleine in dem großen Haus
7. Am Freitag, dem 3. Mai, haben wir geschlossen. د جمعي په ورځ، د مي په درېمه زمونږ ځای تړلی دی Nächsten Freitag, den 3. Mai, haben wir geschlossen. د راتلونکي جمعي په ورځ، د مي په درېمه زمونږ ځای تړلی دی	Am Freitag, den 3. Mai, haben wir geschlossen. Nächsten Donnerstag, dem 3. Mai, haben wir geschlossen
8. So viel wie nötig. څومره چي ورته اړتیا وي	Soviel als nötig.
So bald wie möglich. هرڅومره ژر چي کېدی شي	So bald als möglich.
9. Märchen aus Tausendundeiner Nacht. د یوزر او یومي شپې افسانې	Märchen aus Tausendundeins Nächten
10. die Schuhe meiner Mutter	Meine Mutter ihre Schuhe